له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وپوښتل شول چې تر ټولو زيات شی (کوم دی) چې خلک جنت ته داخلوي، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: له الله جل جلاله څخه وېره او ښه اخلاق

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې وايي: له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وپوښتل شول چې تر ټولو زيات شی (کوم دی) چې خلک جنت ته داخلوي، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: له الله جل جلاله څخه وېره او ښه اخلاق » او ورڅخه وپوښتل شو چې تر ټولو زيات شی (کوم چې) خلک اور ته داخلوي، نو هغه وفرمايل: «خوله او شرمګاه».

[حديث حسن او صحيح دی] [او ابن ماجه او احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې جنت ته د ننوتلو لوی لاملونه دوه دي چې هغه عبارت دي له : له الله جل جلاله څخه وېره او ښه اخلاق. نو له الله جل جلاله څخه وېره دې ته وايي چې د الله تعالى د اوامرو په ترسره کولو او د هغه له ممانعتونو څخه د ځان ساتلو لپاره ستاسو او د الله تعالى د عذاب تر منځه وقايه وګرځوي. او ښه اخلاق: چې په ورين تندي، احسان کولو او له ضرر څخه ځان ساتلو باندې کيږي. او دا چې اور ته د ننوتلو ستر لاملونه دوه لاملونه دي چې عبارت دي له: ژبې او شرمګاه څخه. نو د ژبې له ګناهونو څخه: دروغ ويل، غيبت، چغلګري او داسې نور دي. او د شرمګاه له ګناهونو څخه: زنا، لواطت او داسې نور دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5476

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee